
## د شکل کلاجونه

| | |
|---|---|
| درجه | صفري درجه: (د عمر ګروپ له ۴ څخه تر ۵ کلونو پورې |
| د اړتیا وړ سرچینې | رنګه کاغذ<br>سپین کاغذ د دوی د کلاجونو لپاره (1 د هر زده کوونکي لپاره)<br>کینچي (1  هر زده کوونکي لپاره)<br>سریخ یا ګلوسټیک (1 د هر زده کوونکي لپاره)<br>انځوریز کارت (د هر زده کوونکي لپاره 1)<br>قلم یا پنسل (1 د هر زده کوونکي لپاره) |
| د سرچینو بدیل غوراوي | د رنګه کاغذ پر ځای، ښوونکی کولی شي د مجلې پاڼي یا هر هغه څه شاګردانو ته ورکړي چې زده کوونکي کولی شي شکلونه ورڅخه جدا کړي.<br>انځوریز کارتونه په لاندې ډول کارول کیدی شي:<br>1. د خپل لاس د ورغوي په اندازه د کاغذ ټوټې پرې کړئ (لږترلږه هر زده کوونکي لپاره ۱ دانه)<br>2. هغه ډیزاینونه چې بنسټیز شکلونه کاروي (د نورو معلوماتو لپاره لاندې انځورونه وګورئ یا یې هم له خپل ځان څخه جوړ کړئ) |
| د پوښښ موضوع: | شکلونه او اندازې |
| په نخښه شوي مهارتونه | د شکلونو پیژندنه |
| الهام اخیستنه | Pocket of Preschool, Foundation First |
| اړین وخت<br>زمان مورد ضرورت | 40 دقیقې (د لوبې کولو لپاره)<br>20 دقیقې (د کارت ترتیبولو لپاره) |
| تېرو زده کړو ته اړتیا | د بنسټیزو شکلونو پوهه |
| ملاتړ ته اړتیا | کمه څارنه |

د لوبې قوانین:

| | |
|---|---|
| **موخه** | هغه لوبغاړی چې د اولیه شکلونو څخه په استفادې تر ټولو ډیرې نمرې ترلاسه کړي، د لوبې ګټونکی ده. |
| **قوانین** | که چیرې یو لوبغاړی په جزوي توګه د کولیج سره سمون ولري، یوازې 1 نمره ورکول کیږي.<br>که چیرې یو لوبغاړی په بشپړ ډول د کولیج سره سمون ونلري، نو هیڅ نمرې نه ورکول کیږي.<br>که چیرې یو لوبغاړی یوازې د ځینو ابتدايي شکلونو نومونه  په سمه توګه نواخلي، 1 نمره ورکول کیږي.<br>که چیرې یو لوبغاړی د هیڅ کوم ابتدايي شکل نوم په سمه توګه وانخلي، هیڅ نمره نه ورکول کیږي. |
| **مرحلې** | 1 مرحله: هر زده کونکي ته یوه جوړه قینچې، یو دانه سریخ، او د مختلفو رنګونو کاغذونه ورکړئ (زده کونکي باید مختلف رنګونو ته لاسرسی ولري).<br><br>2 مرحله: زده کونکو ته یو انځوریز کارت په چپه مخ ورکړئ .<br><br>۳ مرحله: کله چې ښوونکی وایي "پیل"، هر زده کوونکی به خپل کارت مخې ته پورته کوي او هڅه به کوي چې ژر تر ژره د خپل عکس کولیج جوړ کړي او د کاغذ په یوه پاڼه کې یې ترتیب کړي.<br><br>4 مرحله: کله چې زده کونکي خپل کولیج پای ته ورسوي، دوی باید د هر هغه شکل نوم ولیکي چې دوی په خپل کولاج کې کارولی وي. دا باید پخپله شکلونو کې ترسره شي یا د تیرونو څنګ ته چې سم شکل ته پرې اشاره شوي وي.<br><br>5 مرحله: کله چې زده کونکي ۴ مرحله بشپړه کړي، دوی په ارامۍ سره باید خپل لاس پورته کړي او ښوونکی به د دقت لپاره د دوی کولیج ګوري. که چیرته شکل ته دقیق نوم ورکړل شوی وي، زده کوونکي ته باید ۲ نمرې ورکړل شي. همدا راز، د کولیج سره د سمون لپاره هم باید ۲ نمرې ورکړل شي.<br><br>شپږم مرحله: هغه زده کوونکی چې لومړی خپل کار پای ته ورسوي او د ښوونکي لخوا د دقت لپاره دده کولاژ او شکلونه وکتل شي،۲ بونس پوائنټونه (نمرې) ترلاسه کوي.<br><br>7 مرحله: دا لوبه د دې په بدلولو سره چې کوم زده کونکی کوم عکس ترلاسه کوي په څو پړاوونو کې لوبیدلی شي. |

| | |
|---|---|
| انځورونه |  |
| د لوبې بدلونونه | لوبغاړي کولی شي خپل کولیج جوړ کړي او نور لوبغاړي مسابقې ته وبلي ترڅو هڅه وکړي چې ورته کولیج دوباره پخپله جوړ کړي. |
| | • د یو حیوان او یا هم یو ټکي نوم زده کوونکو ته ووایاست (د بیلګې په توګه: میز) او له زده کوونکو څخه وغواړئ چې د ابتدایي شکلونو څخه په کار اخیستني یاد توکی رسم کړي. |
| غني کول | • د شکلونو د نومولو سربیره، له زده کونکو څخه وغواړئ چې پخپلو رسم شو شکلونو کې ولکېږ چې د دوی هر شکل څو اړخونه(ضلعې) لري.<br>• په انځوریزو کارتونو کې ډیر پیچلي شکلونه وکاروئ لکه مسدس، اوټګون او ستوري.<br>• له زده کونکو څخه وغواړئ چې په هر پړاو کې 2 یا ډیر کولیجونه جوړ کړي. |
| آسانه کول | مخکې له مخکې د زده کونکو لپاره شکلونه پرې کړئ.<br>•<br>• دا اړینه نه ده چې د زده کونکو څخه وغواړئ چې د سیالۍ ګټلو لپاره خپل نومونه د خپلو شکلونو څخه پورته ولیکي. دا وروسته د ټول ټولګي په شمول هم ترسره کیدی شي. په مختلفو بڼو کې کار او لوبې کول په خپل ذات کې یو زده کوونکې عمل دی.<br>• یوازې د یو ډول شکل سره د عکس کارتونه جوړ کړئ (د مثال په توګه مثلث).<br>• په انځوریزو کارتونو تر ډیرو لږ اساسي شکلونه جوړ کړئ. |